

# واکسین کولو سره د کنساس ساتنه

IMMUNIZE KANSAS COALITION

*Language: Pashto*

IMMUNIZE KANSAS COALITION

## موږ سره په اړیکه کې شئ.

**پوښتنو لپاره موږ سره اړیکه ونیسئ، خبرې تعقیب کړئ او د واکسین کولو په اړه نور معلومات زده کړئ.**

www. immunizekansascoalition.org

immkscoalition@gmail.com

### په ټولنیزو رسنیو کې، موږ تعقیب کړئ.

@immunizekscoalition

@immunizekscoalition

@ImmKSCoalition

د کنساس د معافیت ټولنه





## زموږ په اړه

### راځئ چې په ګډه کار وکړو ترڅو د کنساس ټول اوسیدونکي د واکسین سره د مخنیوي وړ ناروغیو څخه وژغورو.

د کنساس معافیت ټولنه د ۴۵ سازمانونو او کابو ۱۰۰ ژمنو اشخاصو څخه جوړه یوه ډله ده چې پکې د صحی خدماتو کارکونکې، د عامې روغتیا متخصصین، څیړونکي، پروفیسوران، د صحی خدماتو مستفدین، اتحادیې او غیر انتفاعي سازمانونه، د واکسین جوړونکي، د ښوونځي نرسان، درمل جوړونکي، پلرونه او میندې، نیاګانی او نیکونه نور هغه څوک فعالیت کوی چې زموږ د ماموریت ملاتړ لپاره خپل مهارتونه پلې کوي.


واکسین د روغو خلکو، روغو ټولنو او د واکسین سره د مخنیوي وړ ناروغیو اغیزو کمولو لپاره ارزښتمند دی.

## واکسین سره د مخنیوي وړ ناروغۍ لپاره د واکسین کولو موخه څه ده؟

واکسین د بدن د معافیت سیستم ته، چې د ژوند لومړني پړاو کې په چټکه توګه پرمختګ کوي؛ د ناروغیو پیژندل ور زده کوي.



د بیلګی په توګه: موږ ښووونځي ته د ریاضي زدکړی لپاره انتظار نه کوو؛ بلکه، د شمیرو پیژندل د ژوند لومړني پړاو کې پیل کیږي.



## موږ ولي د واکسین د کولو سپارښتنه کوو ؟

د مخنیوي وړ ناروغیو کچه او د دوی زیان رسونکو اغیزو د کمولو لپاره (د بیلګې په توګه: شری، پولیواو د تور ټوخی ناروغۍ)

د هغو خلکو د ساتنې لپاره چې واکسین ترلاسه کولی نه شی.

## ولي د واکسین کول په ځانګړو سپارښتنه کیږي؟

ولې د واکسین کول په ځانګړو عمرونو کې سپارښتنه کیږي؟

د زده کړې ځینې برخې ډیرو درسونو (واکسینونو) ته اړتیا لری.



## په کنساس کې د واکسین کولو الزام

د کنساس ایالت قانون کی، ماشومان وړکتون او ښوونځي ته د حاضریدو لپاره ځینې واکسینونو کولو ته اړتیا لري.

د دغو اړتیاوو د لیدلو لپاره دا QR کوډ سکن کړئ.

## رعایت نه کول یا مستثنی کیدل د الزامیت څخه

ایالتی قانون، دینی او صحی لاملونو د واکسین کولو د الزام څخه مستثنی منلی دی.

# واکسین کولو سره د کنساس ساتنه

د واکسین کولو په اړه د نورو معلوماتو لپاره، په پشتو ژبه کی شتون دا اضافي سرچینې او لاربښونې وګورئ.

## ژوند پرته د واکسین څخه

د واکسینونو پرته، ماشومان، زاړه، او هغه خلک چې د معافیت سیستم یی کمزوری وي د واکسین سره د مخنیوي وړ ناروغیو د اخته کیدو، د هغو ناروغیو ژوند بدلونکی جانبی اغیزی او یا حتی مرګ د لوړ خطر سره مخ وي.

د واکسینونو نشتوالی به په ټولنه سخته اقتصادي اغیزه ولري. والدین به له دندو پاتی، ماشومان به د ښوونځي او وړکتونونو څخه پاتی، د واکسین سره د مخنیوي وړ ناروغیو به په خورا کچه نشر او د عامه روغتیا سیستمونه به له مینځه یوسي. د داسی ناورین غبرګون به په ملیونونو ډالر لګښت ولري.